**عبدالباری عارض**



# د پاکو رایو د بیلیدلو ترڅنګ د ناپاکو کسانو بیلیدل هم اړین دی

د مطبوعاتو له لاری څرګنده سوه چی امریکا ، اشرف غنی او عبدالله په دوو برخو کی توافق کړیدی (تخنیکی او سیاسی )اول د پاکو رایو بیلیدل له ناپاکو رایو څخه چی دا یو تخنیکی بهیر دی، دوهم د ملی یووالی حکومت تر نامه لاندی په سیاسی جوړښت کی و عبدالله او اړیوالانو ته یی ځانګړی مقامات تثبیتول. اما هغه ایډه لوژیکی توپیر ته په کتو چی د سیکولر تکنوکراتانو او جنګسالارانو ترمنځ شتون لری د ملی یووالی حکومت جوړیدل ټکنی ښکاری او یا لااقل هرآن زیان منونکی او د ستونځو ډک معلومیږی. زما په آند ناندری هغه وخت په کامله توګه د منځه ځی او د ملی یووالی حکومت ته لاره هنواره کیدای سی چی **د پاکو او ناپاکو رایو د بیلیدو ترڅنګ پاک کسان د ناپاکه کسانو څخه بیل سی** په هغه صورت کی به د ملی یووالی حکومت ته په یقینی توګه لاره پرانیستل سی او پریکړی به بنسټیز یا زیربینایی رنګ خپل کړی اما اوس د ملی یووالی خبری ټکنی ښکاری ځکه د ملی یووالی حکومت جوړیدل یو روبینایی عمل دی نه زیربینایی بنسټ.

شاید د پردو شاته د مثلث تصامیم پراخه لمن ولری چی د وخت په تیریدو به نور څه هم څرګند او مطبوعاتو ته لاره وومومی. ښاغلی پتمن د اشرف غنی د ټیم غړی و طلوع تلویزیون ته وویل چی په نظر کی ده یو پُست  د بایلونکی نوماند لپاره هم جوړ سی هغه **اجراییوی صدارت دی نه پارلمانی صدارت**،یوازی ولسمشر د فرمان په وسیله  نوموړی پُست ایجاد او بایلونکی نوماند

مقرر کوی ، نو څکه اړینه نده چی د پارلمان څخه د باور رایه ترلاسه کړی جالبه خو داده چی د ډاکتر غنی ټیم د ټاکنو په درشل کی احمد ضیا مسعود ته هم د همدی پُست وعده ورکړی وه . اوس په تدریجی توګه معلومیږی چی د عبدالله او اشرف غنی د جوړجاړی په پایله کی سربیره پر هغه چی د افغانستان اساسی قانون ته مناسبه پاملرنه نده سوی یو مُغلق جوړښت په حکومت کی رامنځ ته کیدونکی دی او د موضوعه قوانینو سره هم په مطابقت کی نه بریښی، اشرف غنی او عبدالله سره پیدا کړه اندیوالی یی په میلمستیاؤ پیل سوه خدای دی وکړی چی د ناز نعمتونه ولس ځنی هیر نکړی، په لمړیو کی ولس ته داسی وښودل سوه چی ګواکی هر نوماند او ټیم ته چی ولس د باور رایه ورکړه هغه واک په لاس کی اخلی خو اوس معلومه سوه چی د رای ورکولو بهیر صرف د تقلُبی دموکراسی د تمثیل په منظور ترسره سو په حقیقت کی د واک انحصارګران زاړه کفن کښان دی چی پر جناب کرزی هم تپل سوی وه او پر احمد زی به هم وتپل سی.

څرګنده نده چی اجراییوی صدارت د کومو صلاحیتونو درلوونکی دی او د کوم قانون پر بنسټ واک استعمالوی!! ایا د ولسمشر او مُرستیالانو څنی صلاحیتونه ورانتقالیږی اوکه( رتبه هغه رتبه، معاش هغه معاش او صلاحیت تر جنراله په څپیره وهلای سی) ؟ یا دا چی د وزیرانو ځنی واکونه ورکول کیږی همدا رنګه جوته نده چی اجراییوی ریس چی د نیمګړی صدراعظم خطاب هم ورته کیږی قرار دادی دی او که په قوانینو کی ځای ورته تثبیت کیږی؟ که قوانین د افرادو لپاره تغیر مومی نو دا به راتلونکی حکومتونو ته ډیر بد میراث پاتی سی دا سمه ده چی ولسمشر د اساسی قانون پر بنسټ د اړتیا په صورت کی کولاسی خپلواکه اداری ایجاد او ریسان یی بیله دی چی د پارلمان څخه د باور رایه ترلاسه کړی د فرمان په اساس مقرر کړی خو دا اداری اُرګانونه د وزارت څخه ټیټ ګڼل کیږی لکه هغه خپلواکی اداری چی همدا اوس شتون لری اما د وزارت څخه د جګ پُست وړاند وینه هیڅ قانون نده کړی یوازی جان کیری او د قدرت مینانو دا صلاحیت ځان ته ورکړ چی داسی پُست رامنځ ته کړی چی د واک ډګر یی یوازی دوی تثبیتولای سی.

بله د اندیښنی وړ خبره داده چی نوموړی مثلث پریکړه کړیده چی دوه کاله وروسته تر اجراییوی صدارت به لویه جرګه رابولی ترڅو د اساسی قانون په تعدیل د صدارت (لمړی وزیر) پُست ته قانونی بڼه ورکړی او د واک ډګر یی قانون وښیی. معلومه نده چی دا به څه ډول لویه جرګه وی چه د چارواکو په هدایت پریکړه کوی که همداسی وی نو بیا درسته ده چی غرب او ځنی معلوم الحاله کړی غواړی د هیواد او ولس ملی ارزښتونو ته سپکاوی وکړی. لویه جرګه زموږ په هیواد کی د پیړیو را پدیخوا د یوه مهم ملی ارزښت په توګه منل سوی حقیقت دی او د هیواد هغه عالی مرجع ګڼل کیږی چی په مطلقه خپلواکی پریکړه کوی هیڅوک او هیڅ مرجع نسی کولای د لوی

جرګې مقام ، وقار او حيثيت ته داسې په سپکه وګورې چې د يو سکرتريت په توګه يې د هداياتو په ورکولو د استفادې وړ وګرځوي.

ډاکتر عبدالله واې رواني ټاکنې ګټونکی او بايلونکی نلري نو ځکه دواړه اړخه د ټاکنو د بهير په ختميدو شريکه اداره يا حکومت رامنځ ته کوي هغه څه چې په نړۍ کې يې مثال نسته، که حقيقت داوې نو بيا ټاکنې يو نمايشي ، تمثيلي او ټګماره بهير ؤ چې په ولس د ملنډو په منظور ترسره سو ځکه په دې صورت کې و ټاکنو ته اړتيا نه وه دواړو اړخونو کولاې سواې د جان کيرې د مشرتابه لاندې شريکه اداره جوړه کړې په هغه صورت کې يې د خلګو د ګوتو د پريکيدو، د امنيتي ځواکونو د مړينې او اقتصاد د ضياع مخه نيولاې سو. په هر صورت د ډاکتر صاحب عبدالله انتظار پاې ته رسيدونکی او ارمان يې واقعيت ته نيژدې ښکاري خو د محمد خان او حاجي محمد انتظار زړه بوګنونکی دی هغوې هم هيله مند وه د ولس په اوږو کښيني اما اوس يې هيله خداې ته ده و جان کيرې او ډاکتر غني ته ده.

زه خو ډير متعجب دی ته سوم چې ډاکتر عبدالله په خپله وينا کې چې د لوې جرګې په خيمه کې د خپلو پلويانو په منځ کې وويل ځنې خلګ تورونه لګوې چې زه چوکۍ غواړم او يا د پيسو هيله لرم خو زه نه چوکۍ غواړم او نه پيسې، اما اوس چې جان کيرې په اداره د ګډون اطمينان ورکړ ورته ډير خوشحاله بريښي د اجراييوي رياست په بدل کې يې ټول مخالفتونو او بغاوت ته د پاې ټکی کښيښود. والسلام